
# د نمونځونو وختونه
# او د هغې حِکمتونه

**28 March-2025**



هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکې
د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

پهٔ 28 مارچ، کال 2025ء (بمطابق: 27 رَمَضَانُ المُبَارَک شریف، کال 1446ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د نـمونځونو وختونه او د هغې حِکمتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ــــ ګناهونه د پاڼو پهٔ شان رژیږي
- ــــ پهٔ قرآنِ پاک کښې د 5 نـمونځونو ذِکر
- ــــ د بے نـمانځه درې شامتونه
- ــــ د دُنیا د ټولو نه وړومبے اَلَارَم

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْـحَمْـدُ لِـلّٰـهِ رَبِّ الْـعٰـلَـمِيْنَ وَ الـصَّـلٰـوةُ وَالـسَّـلَامُ عَـلٰـى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَـاَعُوْذُ بِـالـلّٰـهِ مِـنَ الـشَّيْطٰنِ الـرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، پهٔ صفحه: 38، حديثِ پاک نمبر: 38 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

اَكْثَرُكُمْ اَزْوَاجًا فِى الْجَنَّةِ اَكْثَرُكُمْ صَلَاةً عَلَيَّ

ترجمه: پهٔ جنَّت کښې به د ټولو نه زياتې حُورې هٔغه کَس ته ميلاؤيږي څوک چې پهٔ ما باندې زيات درود لوستلو والا وي۔ (1)

| | |
|---|---|
| عاصيو جُرم کی دوا ہے درود | کیا دوا عینِ کیمیا ہے درود |
| حشر کی تیرگی سیاہی میں | نور ہے، شمع پُرضیا ہے درود |
| چھوڑیو مَت درود کو کافیؔ | راہِ جنّت کا رہنما ہے درود (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... افضل الصلوات للنبھانی، صفحہ:25۔

2... کافی کی نعت، صفحہ:39۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَاالۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے-[1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د **الله پاک** د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښېنم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## اَلوَداع اَلوَداع د روژې میاشتې---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یو خو ورځې مخکښې خبره ده، عاشقانِ رسول انتظار کولو چې رَمَضَانُ المُبَارَک شریف راتلونکې دہ ❁ د رَمَضَانُ المُبَارَک شریف تیاري کیدله ❁ خپل وخت پهٔ نیکو کښې تیروونکو خوش قِسمتو عاشقانِ رمضان خپل شیډول جوړولو چې رَمَضَانُ المُبَارَک شریف به څنګه تیروو؟ د دې د پاره د مخکښې نه هدفونه مقرر کیدل ❁ د عاشقانِ رمضان زړونه ناقلاره وو ❁ بیا د **الله پاک** پهٔ کرم سره، د هغهٔ پهٔ فضل سره یوه ورځ راغله ❁ رُوح تازه کوونکے اواز پهٔ غوږونو ولګیدو: مبارک شئ—!! د رَمَضَانُ المُبَارَک میاشت ولیدلے شوه ❁ پهٔ دې اِعلان اوریدو زړونه د خوشحالۍ نه پهٔ هوا شول ❁ پهٔ جوماتونو کښې سپرلے راغلو ❁ د تلاوت سره شوق لرونکي د قرآنِ پاک پهٔ تلاوت کښې مصروف شول ❁ پهٔ پیشمني او روژه ماتي کښې رش جوړ شو ❁ د سترګو پهٔ رَپ کښې د رحمت عشرې خپل برکتونه نازل کړل او تشریف یې یوړلو ❁ بیا د مغفرت عشره شروع شوه ❁ خوش قِسمتو ته د رَبِّ رحمان او رحیم د بارګاه نه د بخښنې خیرات میلاؤ شو ❁ د رَمَضَانُ

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

المُبَارَک شریف قدر کوونڪو د بخښنې برکتونه حاصل کړل ❀ بیا ډېره زر د مغفرت عشره هم رُخصت شوه ❀ د دې سره د دوزخ نه د ازادۍ عشره راغله ❀ کڼ شمیر اعتکاف کوونڪي د جوماتونو طرف ته روان شول ❀ د اعتکاف رش شروع شو ❀ آه! اوس د روژې د میاشتې دا اخرۍ عشره هم د ختمیدو طرف ته روانه ده، آه! ډېر آه! بس هُم یو څو ورځې پس به د روژې میاشت زمونږ نه رخصت شي۔

| | |
|---|---|
| آہ! رمضان اب جا رہا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے |
| ٹکڑے ٹکڑے مرا دِل ہوا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے |
| جلد رخصت کا وقت آ گیا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے |
| سب کو روتا ہوا چھوڑتا ہے | ہائے تڑپا کے رمضاں چلا ہے (1) |

## باقي ژوند بے بها دے

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اوس لا د روژې د میاشتې یو څو ورځې پاتې دي، مونږ له پڪار دي چې دا غنیمت وګڼو، د مسلمانانو د څلورم خلیفه حضرت علي المُرتضیٰ شیرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډېر ښکلے فرمان دے چې بَقِيَّةُ عُمُرِالرَّجُلِ لَاثَمَنَ لَهٗ یعنې د انسان چې کوم باقي ژوند دے، هغه بے بها دے۔ (2)

واقعي ده چې دا حقیقت دے، کوم سعتونه چې تیر شول، هغه خو هسې هم تیر شول، بیا چرته هم واپس نۀ راځي، کوم سعتونه چې پاتې دي، دا بے بها دي، مونږ له پڪار دي چې د دې نه فائده حاصله کړو، د رَمَضَانُ المُبَارَک راتلونڪي میاشت به مونږه وینو او که نۀ، د دې مونږ ته پته نشته، ځکه چې دا کومې یو څو ورځې پاتې دي، پۀ دې کښې ښه د زړۀ د اِخلاصه نیکۍ وکړئ، اوس یو یو منټ قیمتي دے، د یو سعت د ضائع کولو نه بغیر د زیاتو نه زیات

1...وسائل بخشش، صفحه:683۔
2...الزہد الکبیر للبیهقي، صفحه:295، رقم:779۔

برکتونه حاصل کړئ- اوس لا زما سره يوه طاق شپه يعنې چې کومه شپه به راځي، نهه ويشتمه شپه باقي ده ❁ بيا د دې نه پس لیـلـةُ الـجائِزه (يعنې د اختر شپه) هم راتلونکې ده ❁ هٰغه عظيمه شپه چې د ټولې روژې پهٔ مياشت کښې چې څومره خلق بخښلے کيږي د هغې د شريکې شميرې برابر خلق پهٔ دې شپه کښې بخښلے کيږي-[1] يعنې زمونږه د پاره ډيرې موقعې دي، بس چې زمونږيـې قدر نصيب شي- چې مونږ د دې بيش بها سعتونو نه پهٔ صحيح معنو کښې پهٔ فائدې اخستو کښې کامياب شو- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د رمضان نخښه محفوظ وساتئ!

**خورو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دُنيا دستور دے چې کله څوک خوږ زمونږ نه جُدا کيږي نو د هغهٔ څهٔ نخښه د ځان سره محفوظ ساتو- اوس زمونږه ډيره خوږه، ډير محبوبه مياشت، د رَبّ ميلمنه مياشت رمضان جدا کيږي، مونږ له پکار دي چې مونږه د دې څهٔ يادګار د ځان سره محفوظ وساتو-

**د رمضان شريف نخښه څهٔ ده؟ 5 وخته جومات ته حاضري--!!** هسې خو ظاهره خبره ده چې نـمونځ صرف پهٔ روژه کښې نهٔ بلکې هُم ټول کال فرض دے خو دلته ډير خطرناک حالات دي، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف د تشريف راوړلو سره هم جوماتونه بنه اباد شي خو چې څنګه رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف رخصت شي، د اختر د شپې د ماسخوتن پهٔ نـمونځ هم جوماتونه خالي خالي پهٔ نظر راځي- خواست دے چې د روژې د نخښې پهٔ طور مونږه نـمونځ د هميشه هميشه د پاره خپل کړو، د روژې د مياشتې د عزت پهٔ نيت، د دې ميلمنې د نخښې پهٔ طور مونږه پاخه نـمونځ ګزاره شو، هره ورځ نـمونځونه کوو، پينځه واړه نـمونځونه ادا کوو بلکې پهٔ جومات کښې د جماعتِ اولیٰ سره د ادا کولو عادت اختيار کړو- کاش! ډير زيات کاش چې د مسلمانانو بچے بچے پوخ نـمونځ ګزاره جوړ شي- اے کاش! چې زمونږه دا ذهن جوړ شي چې ټول

---

1 ... شُعَبُ الْاِيمان، باب الصيام، فضائل شهر رمضان، جلد:3، صفحه:304، حديث:3606 ملخصاً-

نـمونځونه تېول کال، راځئ! چې پۀ شريکـه د دې اراده وکړو ”تېول نـمونځونه تېول کال“

ہر عبادت سے برتر عبادت نماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
یا خُدا تجھ سے عطار کی ہے دُعا! | مصطفٰے کی پڑھے ساری اُمّت نماز

يا **اللّٰه** پاکه! مونږ له د پينځه واړه نـمونځونو د جَمعې سره د ادا کولو توفيق راعطا کړې-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ګناهونه د پاڼو پۀ شان رژيږي

حضرت ابو عثمان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: يو ځل زۀ د صحابئ رسول حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ سره د يوې وَنې لاندې ولاړ ووم- حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ د هغې وَنې يوه وَچه څانګه ونيوله او هغه يې وخوزوله- څانګه وَچه وه، پاڼې يـې هم وَچې وې، نو د خوزولو سره د هغې پاڼې ورژيدلې- هغوئي وفرمائيل: اے ابو عثمان! آيا زما نه پوښتنه نۀ کوې چې ما داسې ولې وکړل؟ ما عرض وکړو: ارشاد وفرمايئ چې تاسو داسې ولې وکړل؟ اوئې فرمائيل: يو ځل زۀ د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د يوې وَنې لاندې ولاړ ووم، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم داسې وکړل، د هُغه وَنې يوه وَچه څانګه يـې ونيوله او اوئې خوزوله، تر دې پورې چې د هغې پاڼې ورژيدلې، بيا يـې وفرمائيل: اے سلمانه! آيا زما نه پوښتنه نۀ کوې چې ما داسې ولې وکړل؟ ما عرض وکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ارشاد وفرمايئ چې تاسو داسې ولې وکړل؟ اوئې فرمائيل: بے شکه چې کله مسلمان پۀ ښه طريقه اودس وکړي او پينځه نـمونځونه ادا کړي نو د هغۀ ګناهونه داسې رژيږي لکه څنګه چې دا پاڼې ورژيدلې-[1]

میرے نبی کی آنکھوں کی راحت نماز ہے | کوثر ہے، دل کا چین ہے جنت نماز ہے
کرتے رہو وضو تو یہ جھڑتے رہیں گناہ | پاکیزگیِ جاں کی علامت نماز ہے

1... مسند احمد، جلد:9، صفحه:611، حديث:24350۔

نیکی سے روکتی ہیں بری عادتیں ہمیں | اور جو گناہ سے روکے وہ عادت نماز ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نـمونځ پهٔ چا باندې فرض دے؟

اے د نـمونځ خوش قِسمتو عاشقانو! نـمونځ زمونږه د ګنهګارانو د پاره ډیر لوئې نعمت دے ❁ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پینځه واړه نـمونځونه د **الله پاک** هُغه لوئې نعمت دے چې هغهٔ پهٔ خپل عظیم کرم سره مونږ ته عطا کړل زمونږ نه مخکښې بَل یو اُمت ته هم میلاؤ نه شو [1] ❁ یاد ساتئ چې پهٔ هر مسلمان عاقل بالغ نارینه او زنانه باندې هره ورځ 5 نـمونځونه فرض دي- د دې د فرض کیدو نه اِنکار کُفر دے- څوک چې قصداً عمداً یو نـمونځ قضا کړي هغهٔ فاسِق سخت ګنهګار او د وور د عذاب حق دار دے-[2]

جنت اے بے نمازیو! کس طرح پاؤ گے؟ | ناراض رب ہوا تو جہنم میں جاؤ گے

## د نـمونځ مختصر فضیلتونه

د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډیر ښکلے کتاب دے: فیضانِ نماز- پهٔ دې کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مختلفو حدیثونو او روایتونو مطابق د نـمونځ فضیلتونه بیان کړي دي او لیکلي یـې دي چې ❁ د **الله پاک** د خوشحالۍ سبب نـمونځ دے ❁ د مکي مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو یخ والے نـمونځ دے ❁ د انبیائے کرام عَلَيهِمُ السَّلَام سُنَّت نـمونځ دے ❁ نـمونځ د تیارهٔ قبر شمع ده ❁ نـمونځ د قبر د عذاب نه بچ کوي ❁ نـمونځ د قیامت پهٔ غرمو کښې سورے دے ❁ نـمونځ د پل صراط د پاره اساني ده ❁ نـمونځ نُور دے ❁ نـمونځ د جَنت کُنجي [یعني چابي] ده ❁ نـمونځ د دوزخ د عذاب نه بچ کوي ❁ د نـمونځ سره رحمت نازلیږي ❁ **الله پاک** به د قیامت پهٔ ورځ د نـمونځ کوونکي

---

1...فتاویٰ رضویه، جلد:5، صفحه:43۔
2...فیضانِ نماز، صفحه:8۔

نه رضا وي ❁ نـمونځ د دِين ستَن ده ❁ د نـمونځ سره ګناهونه معاف کيږي ❁ نـمونځ د دُعاګانو د قبليدو سبب دے ❁ نـمونځ د بيمارو نه بچ کوي ❁ د نـمونځ سره بدن ته سکون ميلاؤيږي ❁ د نـمونځ سره پهٔ رزق کښې برکت وي ❁ نـمونځ د بے حيايئ او بدو کارونو نه بچ کوي ❁ نـمونځ د شيطان خوښ نهٔ دے ❁ نـمونځ د قبر پهٔ تيارهٔ کښې د تنهايئ ملګرے دے ❁ نـمونځ د نيکو چاپړے درنوي ❁ نـمونځ د مومن معراج دے ❁ نـمونځ پهٔ وخت باندې ادا کول د ټولو عملونو نه افضل دے ❁ د نـمونځ کوونکي د پاره د ټولو نه لوئي نعمت دا دے چې هغهٔ به د قيامت پهٔ ورځ د **الله پاک** ديدار کوي۔ (1)

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے برتر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولتِ نَماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نَماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صِحّت نَماز |
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | ربّ سے دلوائے گی تم کو جنت نَماز (2) |

## نـمونځ پهٔ مقرر کړے شوي وخت کښې فرض دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نـمونځ پهٔ مونږ باندې پهٔ خپل مقرر کړے شوي وخت کښې فرض دے۔ پهٔ 5سيپاره، سورهٔ نساء، آيت: 103 کښې **الله پاک** فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا ﴿۱۰۳﴾ | ترجمهٔ كنزُ العِرفان: بے شکه نـمونځ پهٔ مسلمانانو باندې پهٔ مقرره وخت کښې فرض دے۔ |

پهٔ تفسير صراط الـجنان کښې دي: (معلومه شوه چې) د نـمونځ وختونه مقرر دي ځکه لازم دي چې د دغه وختونو خيال وساتلے شي۔ (3)

---

1...فيضانِ نَماز، صفحه:1110۔
2...وسائلِ فِردَوس، صفحه:22۔
3...صراط الجنان، پاره:5، سورة النساء، زير آيت:103، جلد:2، صفحه:292۔

# د 5 نــمونځونو ذِکر پهٔ قرآنِ کريم کښې

بعضې خلق دا پوښتنه کوي چې آيا پهٔ قرآنِ کريم کښې د پينځوو نــمونځونو او د دې د وختونو ذِکر موجود دے؟ دا پوښتنه يو ځل د سُلطانُ المُفَسِّرِين، حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه هم شوې وه- چا عرض وکړو: آيا پهٔ قرآنِ کريم کښې د پينځوو نــمونځونو وختونه بيان کړے شوي دي؟ اوئې فرمائيل: آؤ! د قرآنِ کريم پهٔ دوو آيتونو کښې د پينځوو واړو نــمونځونو وختونه جمع کړے شوي دي- بيا هغوئي د 21 سيپارې، د سورهٔ رُوم، آيت: 17 او 18 تِلاوت وفرمائيلو:

فَسُبۡحٰنَ اللّٰهِ حِیۡنَ تُمۡسُوۡنَ وَ حِیۡنَ تُصۡبِحُوۡنَ ﴿۱۷﴾ وَلَهُ الۡحَمۡدُ فِی السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَعَشِیًّا وَّ حِیۡنَ تُظۡهِرُوۡنَ ﴿۱۸﴾

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د الله پاکې بيانوئ چې کله پهٔ تاسو ماښام شي او چې کله سحر شي- او هُم هغهٔ لره تعريف دے پهٔ اسمانونو او زمکه کښې او هٔغه وخت چې کله د ورځې څهٔ حِصَّه پاتې وي او چې کله پهٔ تاسو غرمه [ماسپښين] شي-

بيا حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما وفرمائيل: (پهٔ دې آيت کښې د تسبيح نه مُراد نــمونځ دے او) ❁ د ماښام د تسبيح نه مُراد د ماښام او د ماسخوتن نــمونځونه دي ❁ د سحر د تسبيح نه مُراد د سحر نــمونځ دے ❁ چې کله د ورځې څهٔ حصه باقي وي، د هٔغه وخت د تسبيح نه مُراد د مازديګر نــمونځ دے او ❁ د ماسپښين د تسبيح نه مُراد د ماسپښين نــمونځ دے- [(1)]

1...تفسير طبری، پاره: 21، سورۂ روم، زير آيت: 1817، جلد: 10، صفحه: 174، رقم: 27923۔

# د جنګ په حالت کښې هم د نـمونځ اهميت

معلومه شوه چې د نـمونځونو وختونه مقرر دي او هر نـمونځ په خپل مقرر کړے شوي وخت کښې ادا کول لازم او ضروري دي- د يو نـمونځ وخت هم تيرول يعنې نـمونځ قضا کول ډيره سخته ګناه ده- [1] د بنده که هر قِسمه مجبوري وي، تر څو پورې چې شريعت اجازت ورنکړي، نـمونځ د خپل وخت نه لرې کول، مثلاً دا سوچ کول چې اوس مصروف يم، د ماسپښين نـمونځ به د مازديګر په وخت کښې وکړم، د ماښام نـمونځ به د ماسخوتن په وخت وکړم، دا انداز هيڅکله هيڅکله هم جائز نۀ دے-

يو ځل د جنګ موقع وه، غير مسلمو په خپل مينځ کښې سازش جوړ کړو چې د مازديګر وخت کيدونکے دے، د مسلمانانو نـمونځ ډير خوښ دے، دوئي چې کله نـمونځ کوي نو مونږ به پرې هُغه وخت حمله وکړو- هغوئي دا سازش وکړو، بل خوا **الله پاک** حضرت جبريل امين عَلَيۡهِ السَّلَام راوليږلو، د پينځمې سيپارې آيتونه نازل شول، په دې کښې **الله پاک** د ويرې د نـمونځ پوره طريقه وښودله چې کله داسې معامله راشي نو هُغه وخت په دوو ډلو کښې تقسيم شئ! يوه ډله دې په جَمعه کښې شامله شي، د اِمام سره دې يو رکعت وکړي، دويمه ډله دې د دښمن سره مقابله کوي، بيا دې وړومبۍ ډله د دښمن مقابلې له راشي او دويمه دې د اِمام سره په جَمعه کښې شامله شي، [2] دا طريقه يوه پوره طريقه ده کومه چې په قرآنِ کريم کښې په تفصيل سره بيان کړے شوه، د دې نه تاسو اندازه ولګوئ چې نـمونځ په خپل وخت کښې دننه ادا کول څومره ضروري دي- د جنګ په حالت کښې هم د ماسپښين او د مازديګر يا د ماښام او د ماسخوتن د نـمونځ د يو ځائے ادا کولو اجازت ورنکړے شو-

معلومه شوه چې که هر څنګه مجبوري وي ✿ په سَر درد وي يا تبه مو ونيسي ✿ د ډاکټر

---

1...بهارِ شريعت، جلد:1، صفحه:700، حصّه:4 ملتقطاً-
2...مسند ابي يعلىٰ، جلد:2، صفحه:683، حديث:1444 خلاصةً-

سره میلاؤیدل وي یا ضروري شاپنګ کول وي ❀ که اختر وي او که تهوار ❀ که واده وي او که پهٔ جنازه کښې شرکت ❀ که افطار پارټي وي او که د سالګرې دستوره ❀ که ګاډے درنه ځي او که د سفر نه ایساریدل وي، پهٔ هر یو حالت کښې نـمونځ هُم پهٔ خپل وخت کښې ادا کول لازمي دي، د دُنیا هر یو کار ودریدے شي خو چې تر څو پورې شریعت اجازت درنکړي، تر هغې پورې نـمونځ د خپل وخت نه لرې کول هیڅکله هیڅکله هم جائز نهٔ دي۔

## د ماښام نـمونځ یـې چې ناوخته کړو نو---

یو ځل پیر مهر علي شاه صاحب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه پهٔ سفر باندې وو، څهٔ دوستان وغیره هم ورسره وو، پهٔ ګاډي کښې یـې سفر کولو، پهٔ سفر کښې د ماښام د نـمونځ وخت شو، پیر صاحب وفرمائیل: ګاډے دې ودرولے شي او نـمونځ دې ادا کړے شي۔ یو صاحب ووئیل: بس کور رارسیدونکے دے، مونږ چې خپل منزل ته ورسو نو وه به یـې کړو۔

د سفر پهٔ حالت کښې جُمعه واجب نهٔ وي [1] او پهٔ وخت کښې دننه منزل ته هم رسیدل وو، نو دا فیصله وشوه چې منزل ته ورسو نو نـمونځ به وکړو۔ پهٔ دې سوچ باندې سفر جاري وو، لا لږ مخکښې تلي وو چې ناڅاپه حادثه وشوه او ګاډے اُلټا شو۔ اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! ځاني نقصان اونه شو، ټول محفوظ پاتې شول۔ هُغه وخت پیر مهر علي شان صاحب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه وفرمائیل: دا پهٔ نـمونځ کښې بغیر د څهٔ وجهې د ناوخته کولو وَبال دے۔ [2]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** واقعي چې ډېر رښتیا خبره ده، مونږ چې د کومو خبرو بهانه جوړوو او پهٔ نـمونځونو کښې ناوخته کوو، څهٔ پته لګي چې د نـمونځ ناوخته کولو پهٔ وجه زمونږه کارونه ودرېږي یا پهٔ بَل یو ازمیښت کښې راګیر شو، ځکه مونږ له پکار دي چې څنګه د نـمونځ وخت شي نو فوراً د جَمعې سره نـمونځ وکړو، بیا پهٔ خپلو کارونو کښې مصروف شو،

---

1... درمختار، کتاب الصلاۃ، باب الامامۃ، صفحه:76 ماخوذاً۔
2... مهرِ منیر، صفحه:325۔

كه **اللہ پاک** وغوښتل نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د نـمونځ پهٔ برکت به کارونه هم وشي- **اللہ پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د بهارِ شريعت د صاحب ځانګړې جذبه

د بهارِ شريعت د صاحب مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه واقعه ده، يو ځل هغوئي پهٔ اجمير شريف کښې وو، سخت بيمار شو، تر دې پورې چې بے هوشه شو، د ماسپښين نه مخکښې بے هوشه شو او تر مازديګره پورې بے هوشه وو- حافِظِ مِلَّت علّامه عبد العزيز رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د خدمت د پاره حاضر وو، مفتي امجد علي اعظمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه چې کله پهٔ هوش کښې راغلو نو د ټولو نه وړومبے يې دا پوښتنه وکړه: د ماسپښين وخت دے که نهٔ؟ عرض وکړے شو: د ماسپښين وخت خو ختم شوے دے- پهٔ دې اوريدو دومره پهٔ تکليف کښې شو چې پهٔ سترګو کښې يې اوښکې راغلې- حافِظِ مِلَّت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه عرض وکړو: آيا د حضور پهٔ څهٔ ځائے درد دے؟ اوئې فرمائيل: (ډير زيات تکليف دے چې) د ماسپښين نـمونځ قضا شو- عرض وکړے شو: تاسوه بے هوشه وئ او پهٔ بے هوشۍ کښې قضا شو، پهٔ نـمونځ باندې راګيريدل نشته- (ظاهره ده چې بے هوشه بنده د نـمونځ کولو طاقت نهٔ لري نو قضا کيدل د هغهٔ پهٔ اختيار کښې نهٔ دي، ځکه پرې راګيريدل هم نشته) خو د نيکانو خلقو ځانګړي شانونه دي، هغوئي پهٔ درديدلي زړهٔ سره وفرمائيل: تاسو د راګيريدلو (يا نهٔ راګيريدلو) خبره کوئ، پهٔ مقرر کړے شوي وخت باندې خو د **اللہ پاک** پهٔ دربار کښې د حاضرۍ نه محرومه پاتې شوم-(1)

| | |
|---|---|
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یاالٰہی! |
| میں پڑھتا رہوں سنّتیں وقت ہی پر | ہوں سارے نوافل ادا یاالٰہی!(2) |

---

1... تذکرہ صدر الشریعہ، صفحہ: 30 ملخصاً۔

2... وسائل بخشش، صفحہ: 102۔

## د معرِفت د دروازو د برسیره کیدو وخت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له هم پکار دي چې د نـمونځونو سره **محبت** وکړو، زمونږه **مجبورۍ** په خپل ځائے باندې خو شریعت چې د نـمونځ کوم وخت مقرر کړے دے، د هغې هم خپل اهمیت او فضیلت دے، د **الله پاک** په بارګاه کښې چې حاضري په مقرر کړے شوي وخت کښې وشي، مونږه یو وخت هم د حاضرۍ نه **محرومه** پاتې نشو، د دې ښه پوره کوشش کول پکار دي۔

علمائے کرام فرمائي: لکه څنګه چې د خوراک کولو یو وخت وي، که بے وخته خوراک وکړے شي نو بدن ته د طاقت ورکولو په ځائے انسان ناروغه کوي، دغه شان د زړهٔ (خوراک یعنې په دهٔ) باندې د معرفت د دروازو برسیره کیدو هم یو خاص وخت وي او 5 نـمونځونه چې کوم فرض دي، دا عین هم په هُغه وختونو کښې فرض دي، چې کله په زړهٔ باندې انوار او **تجلیات** راورېږي۔ څکه که جنګ وي او که امن، که سفر وي او که کور وي، په هر حالت کښې د دې وختونو د خیال ساتلو، نـمونځونه هم په دغه وختونو کښې د ادا کولو حکم شوے دے۔[1]

معلومه شوه چې د معرفت د دروازو برسیره کیدو وختونه مقرر دي، د دې نه علاوه به په نورو وختونو کښې دغه دروازې نه برسیره کیږي، څکه ضروري دي چې مونږه هر نـمونځ په خپل مقرر کړے شوي وخت کښې دننه ادا کړو۔

## ټول نـمونځونه په یو وخت کښې ولې مقرر نکړے شول

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په خدمت کښې پوښتنه وشوه: د 5 واړو نـمونځونو هم دا وختونه ولې مقرر کړے شول (دا خو هم کیدے شو چې پینځه واړه نـمونځونه هم په یو وخت کښې کول او فارغیدو به، بیا به مو په ارام سره نور کارونه کول)۔

---

1... تفسیر نَظۡمُ الدُّرَر ، پاره: 5، سورۃالنساء، زیر آیت: 103، جلد: 2، صفحه: 310 خلاصةً۔

مفتي صاحب چې د دې كوم جواب وركړو، هغه د ځينې خپلو الفاظو سره تاسو ته وړاندې كووم، هغوئي وفرمائيل: د نـمونځونو پۀ بيلو بيلو وختونو مقرر كولو كښې حكمت دا دے چې دغه شان د مؤمِن هر حالت د **الله پاک** د ذِكر نه شروع شي، پۀ 24 ګينټو كښې د انسان پينځۀ حالتونه دي ❁ د سحر پۀ وخت ورځ شروع كيږي، لكه چې نوے ژوند ميلاؤ شو، ځكه حكم وشو چې وړومبے د ورځې پۀ شروع كيدو، پۀ نوي ژوند نصيب كيدو باندې د **الله پاک** شُكر ادا كړئ! ورځ د **الله پاک** د ذِكر نه شروع كړئ! چې شروع ښه وي نو اُميد دے چې انتها به يې هم ښه وي ❁ بيا انسان پۀ كار روزګار كښې مصروف شي، ماسپښين د ورځې دويمه حصه شروع كيږي، ځكه حكم وشو چې د كار روزګار نه لږه شان دمه وكړئ! د ماسپښين نـمونځ ادا كړئ! مخكښې چې كومه ورځ تيره شوه د هغې شُكر به ادا شي او د ورځې دويمه حصه به هم د **الله پاک** د ذِكر نه شروع شي ❁ د مازديګر پۀ وخت ورځ ختميدو ته ورنزدې كيږي، هُغه وخت تجارت او كار روزګار كوونكي د خپلو كارونو د راغونډولو تياري شروع كړي او دغه وخت تجارت ته د ښې ډيرې ودې وركولو وخت وي، خلق د كار روزګار نه فارغ شي او د ضرورت سامان اخلي، ځكه حكم وشو چې د مازديګر نـمونځ وكړئ او د ټولې ورځې د تجارت او د كار روزګار شُكر هم ادا كړئ! او ورځ پۀ ښه طريقه ختمه كړئ ❁ د نمر پۀ پريوتو ورځ ختمه شوه، شپه شروع شوه، ځكه د ټولې ورځې د شُكر ادا كولو او د شپې د ښه شروع كولو د پاره د نـمونځ حكم وشو ❁ بيا شپه ښه خوره شوه، اوس د اوده كيدو وخت دے، خوب كوم چې يو قِسم له مرګ دے، دا شروع كيږي، ځكه حكم وشو چې د ماسخوتن نـمونځ وكړئ او اوده شئ! چې كيدے شي دا اخري خوب وي، كه داسې وشول نو ژوند به مو پۀ ښه طريقه ختم شي، كه دا اخري خوب نشو نو شپه به مو ښه تيره شي، سحر به مو تازه پاڅيدل نصيب شي۔ [1]

---

1… رسائلِ نعيميه، اسرار الاحكام، صفحه:283۔

# د 5 نـمونځونو بيل بيل فضيلتونه

حضرت کعبُ الاحبار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما پۀ تورَيت شريف کښې پۀ يو ځائے کښې ولوستل (اللّٰه پاک فرمائي): ❀ اے موسىٰ (عَلَیۡہِ السَّلَام)! د سحر دوه رکعتونه به احمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت ادا کوي، څوک چې دا کوي د هغې ورځې او شپې ټول ګناهوه به يـې اوبخښم او هغۀ به زما پۀ ذمه وي ❀ اے موسىٰ (عَلَیۡہِ السَّلَام)! د ماسپښين 4 رکعتونه به احمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت ادا کوي هغوئي به د وړومبي رکعت پۀ بدل کښې اوبخښم او د دويم پۀ بدل کښې به د هغوئي (د نيکو) چابړے درووند کړم او د دريم د پاره به فرښتے مقررې کړم چې تسبيح (يعنې د اللّٰه پاک پاکي بيان) کړي او د هغوئي د پاره د بخښنې دعاګاني کوي او د څلورم پۀ بدل کښې به د هغوئي د پاره د اسمان دروازې برسيره کووم، د غټو غټو سترګو والا حورې به د شوق نه پۀ ډکو سترګو نظر اچوي ❀ اے موسىٰ (عَلَیۡہِ السَّلَام)! د مازديګر څلور رکعتونه به احمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت ادا کوي نو پۀ اووه وارو اسمانونو او زمکه کښې به هيڅ داسې فرښته نۀ پاتې کيږي، هُم ټولې به د هغوئي بخښنه غواړي او فرښتے چې د چا بخښنه وغواړي زۀ به هيڅکله هم هغۀ له عذاب ورنکړم ❀ اے موسىٰ (عَلَیۡہِ السَّلَام)! د ماښام درې رکعتونه دي، دا به احمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت ادا کوي (نو) د اسمان ټولې دروازې به د هغوئي د پاره برسيره کووم، د کوم حاجت سوال چې کوي هُم هغه به ورله پوره کووم ❀ اے موسىٰ (عَلَیۡہِ السَّلَام)! د شفق د پريوتو پۀ وخت يعنې د ماسخوتن څلور رکعتونه دي، احمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت به دا ادا کوي، هغه د دُنيا او د هغې د هر څيز نه د هغوئي د پاره بهتر دي، هغه به هغوئي د ګناهونو نه داسې اوباسي لکه څنګه چې د مور د خېټو نه پيدا شول ❀ اے موسىٰ (عَلَیۡہِ السَّلَام)! احمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت چې اودس کوي لکه څنګه چې زما حکم دے، زۀ به هغوئي ته د اوبو د پريوتې هر يو څاڅکي پۀ بدل کښې د زمکې او د اسمان د پلن والي برابر جنَّت عطا کووم ❀ اے موسىٰ (عَلَیۡہِ السَّلَام)!

احمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) او د هغوئي اُمَّت به هر کال د يوې مياشتې روژې نيسي او هٔغه مياشت د رمضان ده، زهٔ به هغوئي ته د هرې ورځې د روژې پهٔ بدل پهٔ جنَّت کښې يو ښار ورکووم، پهٔ دغه مياشت کښې به هغوئي ته د نفل پهٔ بدل کښې د فرض ثواب ورکووم، پهٔ دغه مياشت کښې به هغوئي ته لَيلَةُ الـقَدر ورکووم، څوک چې پهٔ دغه مياشت کښې پهٔ پښيمانتيا او رښتنولۍ سره يو ځل توبه کړي که پهٔ دغه شپه يا پهٔ دغه مياشت کښې مړ شو هغهٔ ته به د 30 شهيدانو ثواب عطا کووم۔ (1)

پڑھتے رہو نماز کہ جنّت میں جاؤ گے
ہو گا وہ تم پہ فضل کہ دیکھے ہی جاؤ گے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې د 5 نـمونځونو د بيلو بيلو وختونو مقرر کولو بيل بيل فضيلتونه او بيل بيل حکمتونه دي، ځکه مونږ له پکار دي چې دغه فضيلتونه حاصل کړو، هر يو نـمونځ هم پهٔ خپل مقرر کړے شوي وخت کښې ادا کړو، که هر قِسمه مجبوري وي، هره يوه مجبوري يو اړخ ته کيږدو او مخکښې نـمونځ وکړو، بيا پهٔ نورو کارونو کښې مصروف شو۔ **الله پاک** دې مونږ ته توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د نـمونځ پهٔ خپل وخت د نهٔ کولو وبال

ياد ساتئ چې نـمونځ د خپل وخت نه لرې کول يعنې قضا کول ډيره سخته ګناه ده۔ **الله پاک** پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ

(پارہ:16، سورۂ مریم:59)

**ترجمۂ کنزُ العِرفان:** نو د هغوئي نه پس هٔغه نالائقه خلق د هغوئي پهٔ ځائے راغلل کومو چې نـمونځونه ضائع کړل۔

1 ... تنبيه الغافلين، فضل امة مُحَمَّد، صفحه: 293 ملخصاً۔

صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د دې آيت په تفسير کښې فرمائي: د دې معنىٰ دا نۀ ده چې هغوئي به د سَره هډو نـمونځ نۀ کولو بلکې معنىٰ دا ده چې هُغه خلقو به نـمونځ په وخت تيرولو کولو- (1)

## د الله او رسول د ذِمّې نه بري

د **الله پاک** د ټولو نه اخري نبي، **مُحَمَّدِ** عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چا چې قصداً نـمونځ پريښودو، د هغۀ نه د **الله پاک** او د هغه د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِمّه بري شوله. (2)

اعلىٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: چا چې قصداً د يو وخت نـمونځ پريښودو، په زرګونو کاله په دوزخ کښې د پاتې کيدو حق دار شو، تر څو پورې چې توبه نکړي او د هغې قضا را نۀ وړي- (3)

## د بے نـمانځه درې شامتونه

منقول دي: د قيامت په ورځ باندې به په نـمونځونو کښې سستي کولو والا په دې حال کښې راځي چې د هغۀ په مخ باندې به درې کرښې ليکلې وي: (1): اے د الله حق بربادوونکيه! (2): اے د الله د غضب سره مخصوصه! (3): لکه څنګه چې تا په دُنيا کښې د **الله پاک** حق ضائع کړو دغه شان نن تۀ هم د **الله پاک** د رحمت نه مايوسته شۀ- (4)

پڑھتے رہو نَماز تو جنت کو پاؤ گئے | چھوڑو گے گر نَماز جہنم میں جاؤ گے

## د مِعراج په شپه يـې عذاب وليدلو

رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج په شپه د داسې خلقو خوا له تشريف يوړلو د کومو سرونه چې به په کاڼو چقيدل، کله به چې هم هغۀ وچقولے شول هغۀ به د مخکښې په

1...تفسير درمنثور، پاره:16، سورۀ مريم، زيرِ آيت:59، جلد:5، صفحه:526-
2...مسند امام احمد، جلد:11، صفحه:271، حديث:28126-
3...فتاوىٰ رضويه، جلد:9، صفحه:158 بتصرف قليل-
4...الزواجر، الكبيرة السابعة و السبعون، جلد:1، صفحه:256-

شان صحیح شول او دا سلسله به هم دغه شان روانه وه نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوښتنه وکړه: اے جبرائیله! دا څوک دي؟ عرض یـې وکړو: دا هُغه خلق دي د کومو سرونه چې به پهٔ نـمونځ کولو درَنیدل (یعني فرض نـمونځونه به یـې) پریښودل۔ [1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! پهٔ سَرِه سینه لږ نه ښه ډیر سوچ وکړئ! غور وکړئ چې نن سر معمولي شان زخمي شي نو بنده دردیږي بلکې زخمي کیدل خو غټه خبره ده چې پهٔ سر باندې درد راشي نو خوب وتښتي، ژوند بے مزې ښکاري- بیا سوچ وکړئ چې د نـمونځونو د قضا کولو پهٔ شکل کښې که زمونږه زمونږه نازک سر فرښتو پهٔ کاڼي چقول شروع کړل نو د زمونږ به څهٔ کیږي! کاش! کاش! چې ټول مسلمانان پاخه نـمونځ ګزاره جوړ شي-

توفیق دے الٰہی مجھے تو نماز کی | صدقے میں مصطفٰے کے بنے خو نماز کی

## جنَّت ته داخلیدل

د مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دے: **الله** پاک په ټوله ورځ [او شپه] کښې پینځه نمونځونه فرض کړي دي، څوک چې هُم دا ادا کړي او ناحقه دا ضائع نه کړي نو د **الله** پاک سره د هغه وعده ده چې **الله** پاک به هغه جَنَّت ته داخلوي.[2]

## د نـمونځونو د وختونو خیال وساتئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د نـمونځونو د وختونو خیال ساتل فرض دي، ځکه پکار دي چې د نـمونځونو د وختونو خیال وساتلے شي- حضرت ابو دَردا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دوستانو ته وفرمائیل: که تاسو غواړئ نو زهٔ به ضرور قَسم وخورم، بیا یـې وفرمائیل: پهٔ الله مې دې قَسم وي! د کوم نه علاوه چې څوک هم د عبادت لائق نشته، بے شکه د **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې د ټولو بندګانو نه زیات عظمت والا هُغه خلق دي څوک چې د شپې او ورځې د نمر او سپوږمۍ

---

1...مسند بزار، جلد:17، صفحه:5، حدیث:9518۔

2...مسند امام احمد، جلد:9، صفحہ:325، حدیث:23334۔

خيال ساتي- دوستانو يـې عرض وکړو: اے ابو دردا! آيا د دې نه مُؤَذِّن مُراد دي؟ اوئې فرمائيل: بلکې چې کوم مسلمان هم د نـمونځ د وخت خيال ساتي-[1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې کوم بندګان د نـمونځونو د وختونو خيال ساتي، د **الله پاک** په نزد د هغوئي ډير عزت دے- مونږ له پکار دي چې د دې خيال وساتو، د نـمونځونو د وختونو معلومات ساتل په خپل عادت کښې شاملول پکار دي، مونږ ته د دې معلومات پکار دي چې نن سبا د کوم نـمونځ وخت کوم وخت شروع کيږي او کوم وخت ختميږي ❀ د دعوتِ اِسلامي يو موبائل ايپلي کيشن دے: *PrayerTime* (د نـمونځ وختونه)- دا ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ! په دې کښې د پينځوو واړو نـمونځونو وختونه او د دې نه علاوه ډير سهولتونه ورکړے شوي دي، وخت په وخت دا ګورئ ❀ دغه شان د محلې جومات چرته چې مونږه نـمونځونه کوو، چې دفتر ته ځو نو د دفتر سره په نزدې جومات کښې د جُمعې وختونه څه دي، د کوم نـمونځ جُمعه په کوم وخت کيږي، د دې هر څه معلومات ساتئ، بيا د دې مطابق خپل جدول جوړوئ-

## د دُنيا د ټولو نه وړومبے اَلَارم

**په روايتونو کښې دي:** د **الله پاک** نبي او زمونږه د ټولو والِدِ **محترم** حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله دُنيا ته تشريف راوړلو نو بيا ظاهره ده چې دلته کار روزګار هم کول وو، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام به زميداره کوله، په دُنيا کښې يـې نوے نوے قيام وو، ګړۍ، الارم وغيره وغيره هيڅ سهولتونه هم هغه وخت نهٔ وو- نو هغوئي د **الله پاک** په بارګاه کښې عرض وکړو: اے **الله** پاکه! چې داسې صورت وي چې کله د نـمونځ وخت شي نو چې زهٔ په څهٔ طريقه باندې خبر شم د پاره د دې چې زهٔ ټول کارونه پريږدم او په نـمونځ کښې مصروف شم- هغه وخت **الله پاک** بانګې عطا

1… کتاب الثقات ، جلد:4، صفحه:330، حديث:4799-

کړو- چې کله به د نـمونځ وخت شو نو بانګي به بانګ کولو-[1]

سُبۡحٰنَ الله! لکه چې د دُنيا د ټولو نه وړومبے الارم بانګي دے او دا د څۀ د پاره راغلو د پاره د دې چې حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د نـمونځونو د وختونو نه خبر ساتي-

## بانګي چې کله بانګ وکړو

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خوا کښې يو بانګي بانګ وکړو نو يو کَس ووئيل: اے الله! پۀ دۀ لعنت کړې- نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو: پۀ دۀ لعنت مۀ وايه او ردې بدې مۀ وايه، بے شکه دا د نـمونځ د پاره رابلي-[2]

حضرت علامه کمالُ الدِّين دَميري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: بانګي د نـمونځ د پاره رابلي- د دې معنیٰ دا نۀ ده چې کله هغۀ بانګ کوي دا وګڼلے شي چې د نـمونځ وخت شوے دے بلکې د بانګي پۀ فطرت کښې دا خبره هم ده چې هغۀ د سحر کيدو پۀ وخت بيا بيا اواز (يعنې بانګ) کوي د کوم پۀ وجه چې خلق د نـمونځ د پاره راپاخي، او داسې بانګي د نـمونځ د پاره د خلقو د راپاڅولو يوه ذريعه ده، دۀ ته پۀ مُرادي طور باندې دُعَاءُ الدِّيۡكِ اِلَى الصَّلٰوةِ (يعنې بانګي د نـمونځ د پاره رابلي) وئيلے شوي دي- بهر حال د سحر د وخت پۀ تعلق سره د دۀ پۀ اذان يعنې پۀ بانګ دې اعتماد هيڅکله نۀ کيږي ځکه چې د اکثرو تجربو نه دا خبره ثابته شوې ده چې د انسانانو د ښپو اواز او ګرځيدو پۀ اوريدو د صبح صادق نه مخکښې هم بانګيان بانګونه شروع کوي-[3]

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اِمامِ بُخاري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ذِکرِ خير

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ وړومبي شوّال شريف (يعنې د اختر پۀ ورځ) د عالَمِ اِسلام

1... تاريخ الخميس، المقدمة، جلد:1، صفحه:103102-
2... معجم کبير، جلد:5، صفحه:11، حديث:9675-
3... حياة الحيوان، جلد:1، صفحه:479 ملخصاً-

د عظيم شخصيت، د ډير لوئي عالِمِ دِين، مُحَدِّث، نيک، عبادت ګزاره، وَلِيِّ کامِل حضرت اِمام محمد بن اسماعيل بُخاريرَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه څوک چې خلق د اِمامِ بُخاري پۀ نوم باندې پيژني، د هغوئي عرسِ پاک وي۔ اِمام بُخاريرَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه پۀ ديارلسم شوّال شريف کال 194 هجرى پۀ بُخارا شريف کښې پيدا شو [1] او پۀ وړومبي شوّال شريف د 62 کالو پۀ عمر کښې پۀ کال 256 هجرى کښې يې د دې فاني دُنيا نه رحلت وفرمائيلو۔[2] د هغوئي مزار مبارک د سمرقند سره نزدې پۀ خَرتَنک نومې کلي کښې دے۔[3] امام بخاريرَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ټول عمر د عِلمِ حديث ښه ډير خدمت وکړو، امام بخاريرَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډير عبادت کوونکے، زاهد، او متقي وو، د امام بخاريرَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د وفات کيدو نه پس تر ډيرې مودې پورې د هغوئيرَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د قبر مبارک نه د مشکو نه هم زياته ښه خوشبوئي راتلله۔[4]

## د اِمامِ بُخاريرَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د تلاوت شوق

يوه ورځ امام بخاريرَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نـمونځ کولو، پۀ هُغه وخت د شاتو مچې هغوئي 17 ځايه وچيچلو، د نـمونځ د پوره کولو نه پس امام بخاريرَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: لږ وګورئ چې څۀ څيز دے کوم چې پۀ نـمونځ کښې ما ته تکليف رارسولو؟ شاګردانو چې يې وکتل نو هغوئي ملا مبارکه 17 ځايه پړسيدلې وه۔ امام بخاريرَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د شاتو د مچې د 17 ځايه چيچلو باوجود د نـمونځ نۀ ماتولو پۀ باره کښې وفرمائيل: ما د يو آيت تلاوت کولو او زما دا خواهش وو چې زۀ دا آيت پوره کړم۔

د امام بخاريرَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه معمول وو چې هغوئيرَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به پۀ رَمَضَانُ الۡمُبَارَک شريف کښې يو ځل پۀ تراويح کښې د قرآنِ پاک ختم کولو، بيا به يې د تهجدو پۀ نـمونځ کښې پۀ دريو شپو کښې يو ځل د قرآنِ پاک ختم کولو او د پيشمنې نه تر د روژه ماتې پورې به يې هره ورځ د

---

1...هِدايةُ السَّارِى، صفحه:49۔
2...هِدايةُ السَّارِى، صفحه:179۔
3...هِدايةُ السَّارِى، صفحه:177۔
4...هِدايةُ السَّارِى، صفحه:178۔

قرآنِ پاک يو ختم کولو، داسې که به رَمَضَانُ المُبَارَک شريف د30ورځو وه نو امام بخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به پهٔ يوه مياشت کښې 41 ځل د قرآنِ پاک پهٔ ختم کولو کښې کاميابيدلو-[1]

سُبۡحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته هم پهٔ نـمونځونو او تلاوت کښې داسې ذوق او شوق راعطا کړي- اوس لا د رَمَضَانُ المُبَارَک شريف يوه يا دوه ورځې پاتې دي، چې څومره درنه کيدے شي نو تلاوت وکړئ! نـمونځونه وکړئ! پهٔ کثرت سره نفلونه وکړئ! او امام بخاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته يـې ايصال ثواب هم کړئ! اِنۡ شَآءَاللهُ الۡكَرِيم! د دُنيا او د اخرت خيرونه به مو نصيب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ليـلةُ الـجائِزه (د اختر پهٔ شپه) کښې د عبادت ترغيب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** آه--!! د روژې مياشت زمونږ نه جُدا کيږي، د ذِيشان مياشت مونږه پريږدي، د دې مبارکې مياشت هر سعت د رحمت نه ډک دے، **الله پاک** که يو خوا مونږ ته د ليـلةُ الـقدر پهٔ شان عظيمه شپه عطا کړې ده نو بل خوا يـې د دې مبارکې مياشت نه فوراً پس ليـلةُ الـجائِزه يعني د انعام شپه هم عطا کړې ده ❁ پهٔ دې شپه باندې **الله پاک** خپل رحمتونه نازلوي ❁ دا د بخښنې شپه ده ❁ دا شپه د خپل رَبّ د عبادت کولو شپه ده چې کوم بنده پهٔ دې شپه باندې د **الله پاک** عبادت کوي **الله پاک** د هغهٔ د پاره جنَّت واجب کوي-[2] ❁ کوم بنده چې دا شپه د **الله پاک** پهٔ عبادت کښې تيره کړي **الله پاک** به د هغهٔ زړهٔ نهٔ مړ کوي- پهٔ حديثِ پاک کښې دي: چا چې د عيدين (يعني د وړوکي اختر او د غټ اختر) پهٔ شپه د ثواب د طلب د پاره قيام وکړو (يعني د نفل نمونځ کولو اهتمام يـې وکړو) ، پهٔ هغه ورځ به د هغهٔ زړهٔ نهٔ مړ کيږي، پهٔ کومه ورځ چې به (د خلقو) زړونه مړه کيږي-[3] ❁ ټولو عاشقانِ رسول خاص طور

---

1...ہدایۃُ السَّارِی، صفحه:70 و 72-

2...الترغيب و الترہيب، كتاب العيدين، الترغيب في احياء ليلتي العيدين، صفحه:373، حديث:2-

3...ابن ماجه، كتاب الصيام، باب فيمن قام في ليلتي العيدين، صفحه:284، حديث:1782-

اعتکاف کوونـکو ته پکار دي چې دا شپه پهٔ جوماتونو کښې د **اللّٰه پاک** پهٔ عبادت کښې تیره کړي چې حضرت ابراهیم نَخَعي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: بزرګانِ دِین رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡهِم به د اِعتِکاف کوونکو د پاره دا خبره خوښوله چې د وړوکي اختر شپه هم پهٔ جومات کښې تیره کړي-(1)

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغیب

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د رَمَضَانُ المُبَارَک شریف نه پس شوال شریف راتلونکے دے. خوش قِسمته مسلمانان پهٔ دې میاشت کښې د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو نیولو سعادت حاصلوي. راځئ چې د دې روژو فضائل واورو چې د دې روژو د نیولو او د دې د برکتونو نه د فیض حاصلولو ذهن مو جوړ شي، نو ❀ **پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یې 6 ورځې پهٔ شوال کښې روژې ونیولې نو د ګناهونو نه داسې ووتلو لکه چې هم نن د مور د خِیټې نه پیدا شوے وي. (2) ❀ چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یې د هغې نه پس پهٔ شوال کښې 6 روژې ونیولې. نو داسې ده چې لکه ټول عمر یې روژې ونیولې. (3) ❀ خَلیلِ مِلَّت مفتي محمد خلیل خان برکاتي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فرمائي: دا روژې که د اختر نه پس پرله پسې ونیولے شي نو بیا پکښې هم څهٔ باک نشته او بهتره دا ده چې پهٔ هره هفته کښې دوه روژې او د اختر پهٔ دویمه ورځ یوه روژه ونیسي او که پهٔ ټوله میاشت کښې یې ونیسي نو نور هم مناسب معلومیږي. (4)

## د عطیاتو ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ستاسو خپل دِیني تحریک دعوتِ اِسلامي، دا وخت د اتیاؤ [80] نه پهٔ زیاتو شعبو کښې د دِین خدمت کوي ❀ پهٔ زرګونو مدرسې او جامعات جوړ کړے

1... فیضانِ رمضان، صفحه:279، 280۔
2... مجمع الزوائد، کتاب الصیام، باب فیمن صام ...الخ، جلد:3، صفحه:322، حدیث:5102۔
3... مسلم، کتاب الصیام، باب استحباب صوم...الخ، صفحه:424، حدیث:1164۔
4... سنی بهشتی زیور، صفحه:347۔

شوي دي پهٔ کومو کښې چې پهٔ لکونو نارينه او زنانه طالبِ علمانې دِيني تعليم حاصلوي ❁ د الـمدينةُ العلميه (Islamic Research Center) پهٔ ذريعه مسلمان اُمَّت ته اِسلامي لټريچر ورکولے شي ❁ د سوشل ميډيا پهٔ ذريعه کروړونو خلقو ته اِسلامي معلومات ورکولے شي ❁ د مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله، کِډز مَدَني چينل، د بزرګانو مَدَني چينل او د عربی د ويب سائټ پهٔ ذريعه د دِينِ اِسلام تعليمات عام کيږي ❁ او پهٔ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د ښيګړې د پاره د جوړې کړے شوې شعبې ايف جي آر ايف (FGRF) پهٔ ذريعه د درديدلو مسلمانانو خدمت جاري دے۔

تاسو هم د دين د خِدمت پهٔ دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده پهٔ څهٔ قِسمه جائز، ديني، اصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې پهٔ کارونو کښې لګيدے شي د پاره د دې چې زياتي خرچي پرې پوره کړے شي۔

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د فطرے د ستهال لګولو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څنګه چې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې مال لګول سعادتمندي او ډير د نيکئ کار دے هُم داسې د خلقو نه چنده راجمع کول او د دې د پاره کوشش کول هُم د فائدې نه خالي نه دي. اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د هر ديني ضرورت د پاره چنده کول جائز او د سُنَّت نه ثابت دي[1] نور فرمائي: ديني کارونو د پاره چنده کول د صحيح حديثونو نه ثابت دي، او د نيکئ د کارونو د پاره چنده کول د نيکئ طرف ته د لار ښودنې په شان دي. په حديث شريف کښې دي: څوک

---

1...فتاوىٰ رضويه، جلد:16، صفحه:418۔

چې د خير کار (يعنې د نيکۍ کار طرف ته) لار ښودنه وکړي د هغه هُم هُغه همره ثواب کيږي څومره چې د خير کار (يعنې د نيکۍ) کوونکي کيږي.[1] د د واړه اختر په شپه او د اختر په وړومبۍ ورځ په اهمو ځايونو کښې د فطرے سټالونه لګولو په ذريعه په دې نيک کار کښې حصّه اخستل کيدے شي، ذمه دارانو سره رابطه وکړئ او د عطياتو سټال لګولو ځائے وټاکئ او د ډيرو ډيرو عطياتو راجمع کولو کوشش وکړئ. **اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راکړي. آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اختر پهٔ شپه پهٔ قافلو کښې د سفر کولو ترغيب

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف مياشت اوس د لږ وخت ميلمنه ده او ډيره زر رخصتيدونکي ده. بيا به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د اختر شپه راشي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هر کال د اعتکاف سعادت حاصلوونکي خوش قِسمته اِسلامي وروڼه او د نورو عاشقانِ رسول يوه شميره **د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح د کوشش** د مقدسې جذبې لاندې پهٔ دې شپه د قافلو مسافر جوړيږي. هسې خو دا ډير ګران کار دے خو ياد ساتئ چې د نيکۍ دعوت ورکول او پهٔ دې لاره کښې مشقت کول د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام سُنَّت دي ❀ انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلام ❀ صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان ❀ نيکان خلق به د نيکۍ د دعوت ورکولو د پاره د کورونو نه وَتل ❀ لرې لرې علاقو ته به تلل ❀ هجرت به يې کولو او ❀ پهٔ مشقت سره به يې د دِين پيغام عام کولو ❀ د مخکښينو خلقو پهٔ قربانو مونږ ته دِين رارسيدلے دے.

تاسو هم د اختر د شپې نه پهٔ قافله کښې د سفر کولو نيت وکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډير

---

1...فتاویٰ رضویہ، جلد:16، صفحہ:468۔

برکتونه به مو نصيب شي ❁ په قافله کښې فرض عِلمِ دِين ښودلے کيږي ❁ سُنَّت ښودلے کيږي ❁ د تهجدو کولو سعادت نصيب کيږي ❁ د نيکۍ د دعوت عام کولو موقع ميلاؤيږي ❁ د قافلې په برکت د دعاګانو د قبليدو ❁ د مشکلاتو د لرې کيدو ❁ د بيمارو نه د شِفا ميلاؤيدو هم په سوونو واقعات دي ❁ داسې هم شوي دي چې په قافله کښې د سفر کوونکو عاشقانِ رسول د ډاډګيرنې د پاره خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم فرمائيلے دے، په خوب کښې يې تشريف راوړے دے او په قافله کښې شرکت کوونکو ته يې ديدن ورکړے دے. **الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د باغ ځانګو

د حيدر آباد په يوه محله کښې د علاقائي دورې د دعوت نه د متاثره کيدو سره يو ماډرن ځلمے جومات ته راغلو- په بيان کښې په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو ترغيب ورکړے شو نو هغهٔ په مَدَني قافله کښې د سفر کولو د پاره نوم وليکو- د قافلې په روانيدو کښې لا يو څو ورځې پاتې وې چې هُغه ځلمے وفات شو- په کور والؤ کښې يو کس هغهٔ په خوب کښې په دې حالت کښې وليدو چې هغهٔ په يو شين باغ کښې ډير خوشحاله دے او په ځانګو کښې ځانګي- خوب ليدونکي ترينه پوښتنه وکړه چې دلته ځنګ راغلې؟ هُغه ځلمي جواب ورکړو چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره راغلے يم، **الله** پاک ډير کَرم فرمائيلے دے، زما مور ته ووايه چې زما غم نه کوي، زهٔ دلته ډير په سکون کښې يم-

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو |
| پاؤگے بخششیں قافلے میں چلو | جنّتیں بھی ملیں، قافلے میں چلو |

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!    صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## قرآن ټيچر موبائل ايپلي کيشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټيکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قرآنِ کريم د فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي *I.T* ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: قرآن ټيچر(*Quran Teacher*)- ❁ په دې ايپلي کيشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فيضانِ نماز کورس او زکوٰة کورس په شان نورو ډيرو آن لائن کورسونو د پاره رجسټريشن کولے شي ❁ په سټوډنټ پورټل (*Student Portal*) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو په باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❁ د دعوتِ اِسلامي په دې پليټ فارم باندې تقريباً د 45 نه زيات اِسلامي کورسونه کولے شي- ❁ تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر يو کورس انتخاب کولے شئ او بغير د څۀ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ- دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ او پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب وکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف مياشت جاري ده اَلْحَمْدُلِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په مَدَني چينل باندې روزانه د مازديګر د نـمونځ او د تراويح نه پس مَدَني مذاکره فرمائي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول په دې مَدَني مذاکرو کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، په راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د فيضانِ ليلةُ القدر رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د اللّٰه پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو

سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ مکتبة المدينه وړاندې کوي--!! د اختر د نمونځ د فضيلتونو او مسئلو نه د ځان خبرولو د پاره رساله په نوم نماز عيد كا طريقه، او د اختر په ښه طريقه د تيرولو لپاره کښې ډيره معلوماتي رساله په نوم ميٹهى عيد او ميٹهى باتيں- تاسو دا دواړه رسالې د مکتبة المدينه د يوې ښانګې نه په 15/15 روپۍ په بيعه واخلئ! پخپله يې هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیْ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صدقهٔ فطر فضيلت

الله پاک په قرآن کريم کښې ارشاد فرمائي:

| قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ﴿14﴾ (پاره:30، الاعلٰی:14و15) | تَرْجَمَۂ کَنْزُالْعِرْفَان: بيشکه چا چې نفس پاک کړلو هغه کامياب شو. |
|---|---|

تفسير خزائنُ العرفان کښې دي چې: په دې آيت کښې د تَزَکّٰی نه مُراد صدقهٔ فِطر [فطره] ورکول دي. (2) يعني کوم بنده چې د عِيدُ الفطر [واړه اختر] په موقع د صدقهٔ فِطر ورکولو په ذريعه د غريبانانو ته د اختر د خوشحالو کولو موقع فراهم کوي، د هغه زړه پاک

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-
2... تفسير خزائن العرفان، پاره:30، الاعلٰی، زيرِ آيت:14، صفحه:1099-

شي او هغه فلاح او کاميابئ ته ورسي.

**خوېږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ۞ **صَدَقَهٔ فِطر** په هغه ټولو مسلمانانو سړو او ښځو واجِب ده کوم چې "صاحِبِ نِصاب" وي او د هغوئې نِصاب د حاجاتِ اصليه (يعني د ژوند د ضرورتونو مَثَلًا د اوسيدو کور او د خانه دارئ د سامان وغيره)" نه فارِغ وي. (ماخوذ از عالمگيری ج1، ص191)

۞ **په حديث پاک کښې دي:** حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: خوږ مَدَنـي آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صَدَقَهٔ فِطر مُقرَّر کړه چې د فُضولو او بيهوده خبرو نه د روژو طَهارَت (يعني صفائي) اوشي. او د مسکينانو خوراک هُم اوشي. (اَبو داؤد ج٢ ص158 حديث1609)

**په يو بل حديث پاک کښې دي:** حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وائي سرکارِ نامدار د مدينے تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: تر څو پورې چې صَدَقَهٔ فِطر ادا نه کړے شي د بنده روژه د زمکې او آسمان تر مينځه مُعَلَّق (يعني په هوا کښې ولاړه) اوسي. (اَلْفِردَوْس بِمَأْثُورِ الْخطاب ج2 ص385 حديث3754)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الــمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتيں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

علم حاصل کر، جَہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں، قافلے میں چلو
سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

**الله پاک** دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاگانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرگانِ دينو فرمائيلې دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبُر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهم حيران شول چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

1...القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷
2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹
3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنۡهُما نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكئ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ، سُبۡحٰنَ اللهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب!        صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترہيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰
2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵
3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵